

د پالیسۍ لنډیز

# ګاونډي په نوي عادي حالت کې؟

## پاکستان او افغانستان تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته

انډریو واټکینز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

د پالیسۍ دغه لنډیز له افغانستانه د متحده ایالاتو د ځواکونو له وتلو وروسته، له افغانستان سره د پاکستان تعامل په لنډ ډول څېړي. دغه څېړنه دغه موضوع تر بحث لاندې نیسي، چې له افغانستانه د متحده ایالاتو د ځواکونو د وتلو د ماهیت په تړاو څرنګه ابهام، د پاکستان پر ملي او سیمه ییز امنیت باندې اغېزه کوي. دغه پوښتنه، چې کومې سناریوګانې په دې برخه کې تر ډېره واقعیت ته نژدې دي، په کابل، اسلام آباد او اروپایي هېوادونو کې د لنډمهالو او منځمهالو پالیسیو د تعدیل غوښتونکی دی. دغه څېړنه، له افغانستان سره د اسلام آباد راتلونکی تعامل تر څېړنې لاندې نیسي، د سولې تر پروسې وروسته د دواړو لورو ترمنځ د همکارۍ ننګونې او لیدلوري جوتوي او دا په ګوته کوي، چې د اروپایي ټولنې او سیمه ییزو ستراتیژیو کې باید کومو لاملونو ته رسېدنه وشي، ترڅو له یوې احتمالي جګړې څخه په اغېزناکه توګه مخنیوی وشي.

د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې، له هغه مهاله کړکېچنې دي، چې پر ۱۹۴۷ ز. کال یعنې د پاکستان تر خپلواکي وروسته افغانستان په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د غړیتوب پر وړاندې مخالفه رایه وکاروله[1]. له هغې مودې راهیسې د پاکستان سیاست د افغانستان په تړاو هند محور دی او په وروستیو لسیزو کې دوو اصلي موخو ته یې د رسېدو په موخه پرمختګ کړی دی: (۱) په کابل کې نسبتا د یو دوست دولت د ټینګښت په موخه د پښتون اکثریت وګړو څخه په ګټه اخیستنې سره ستراتیژیک عمق ته رسېدل، او (۲) د هند له خوا د ستراتیژیکي کلابندۍ څخه مخنیوي او په افغانستان او سیمه کې د هند د مخ پر وده دیپلوماتیک او سوداګریز حضور کموالی[2]. د افغانستان په مرسته د پاکستان په دننه د ډیلي له خوا د بلوڅو او وزیرو بیلتون پالو ډلو سره مستقیمه او نامستقیمه مرسته، د بې باورۍ کچې د زیاتېدو لامل شوی دی. سربېره پر دې کابل له ډېرې مودې راهیسې د یوې رسمي پولې په توګه د ۱۸۹۳ ز. کال ډیورند کرښې وضعیت د اختلاف وړ ګڼي. پاکستان، پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د یرغل پرمهال[3]، د مجاهدینو سني ډلو ته پناه ځای او وسلې ورکړې، ترڅو هغوی وکولی شي، په افغانستان کې وجنګېږي. دغه هېواد، له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د ځواکونو تر شاتګ وروسته، د جنګي ډلو ترمنځ د سیاسي حل او فصل څو ناکامو هڅو هوکړه لیکونه، لکه د راولپنډي، اسلام آباد او پېښور هوکړه لیکونه، تسهیل کړل، او په پایله کې په سیاسي او پوځي ډګر کې یې تر ۲۰۰۱ ز. کال له طالبانو څخه ملاتړ وکړ. پاکستان د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د ۲۰۱۹ ز. کال د هوکړه لیک د لاسلیکولو په برخه کې کریډیټ ترلاسه کړ او پر طالبانو د دغه هېواد فشار ته په پام سره، د افغانستان د سولې په پروسې کې یې د مرکزي لامل په توګه، دریځ خپل کړ.

## ربښتینی تغییر یا تظاهر او ځان ښودنه؟

تر ۲۰۰۱ ز. کال وروسته د افغانستان په تړاو د پاکستان سیاست ناشفافه او متناقض دی؛ په ځانګړې توګه له طالبانو څخه د دغه هېواد پټ ملاتړ، په کابل او نورو هېوادونو کې د دغه هېواد په تړاو د بې باوریو او بدګمانیو لامل شوی دی. پاکستانی چارواکي ټینګار کوي، چې دواړه هېوادونه د بین الافغاني خبرو له لارې د ګټې اخیستنې لپاره، تاریخي فرصت لري او په ضمن کې له کابل څخه غواړي، چې د «ملامتولو» تر سیاست چې تر ډېره یې دوی اړیکې تر سیوري لاندې راوستي، لوړ فکر وکړي. په سیمه کې، دغه ټولیزه انګېرنه هم شتون لري، چې په معاصر تاریخ کې د لومړي ځل لپاره، د افغانستان په تړاو په ځانګړې توګه اقتصادي او سوداګریز ادغام په اړه، د پاکستان، ایران او روسیې ترمنځ یو ګډ لیدلوری شتون لري. دغه درک شتون لري، چې د افغانستان جګړې ته د رسېدو په برخه کې، باید پخپله سیمه ییز هېوادونه ونډه ولري، نه دا چې دا دنده د نړیوالو لوبغاړو پر غاړه واچول شي او په افغانستان د بې ثباتۍ زیاتوالی، د هېڅ سیمه ییز هېواد په ګټه نه ده.

له دې سره سره، له ۲۰۰۱ ز. کال راهیسې افغان دولت په دوامداره توګه څرګنده کړې، چې د پاکستان بنسټیزې انګیزې او ستراتیژیک اصولو کوم بدلون نه دی کړی. د هند د نفوذ د پراختیا په اړه د اندېښنو سربېره، د پاکستان افغاني سیاست، د «تسخیر او وېش» له یوې ستراتیژۍ څخه په ګټه اخیستنه، د کورنیو ګواښونو شنډول دی او همدارنګه د نورو په وړاندې د یو شمېر ملیشه یي ډلو کارول وو او دي. د پاکستان د وخیم اقتصادي وضعیت او د دغه هېواد د اوږدمهالو پوروونو له ستونزې سره سره، کابل باوري دی، چې پاکستان د دغه عواملو پر بنسټ، په خپل سیاست کې د تغییر راوستلو ته لېوالتیا نه لري او ادعا کوي، چې د پاکستان د تغییر شعارونه له دې پرته چې د واشنګټن لپاره تظاهر او ځان ښودنه وي، بل څه نه دی. افغان چارواکو، یادونه کړې، چې د انګیزو او بازدارندګیو مخکني ترتیبات لکه له پاکستان سره د پرمختللي مشارکت مقرره، چې پر ۲۰۰۹ ز. کال کې لاسلیک شو او د کیري لوګر هوکړه لیک په نامه هم یادېږي او دغه هېواد ته یې میلیاردونه ډالره چمتو کړل، بیا هم د دې لامل نه شول، چې د پاکستان مشرتابه دې ته اړ کړي، ترڅو خپل فکر بدل کړي، یا د خپل ملي امنیت پر سیاست بیاکتنه وکړي.

۱ . له ابهامه تر ستراتیژي پورې پروژه: د افغانستان په سیمه کې د برلاسه کېدو راتلونکي احتمالي سناریوګانې څه دي؟ دا د فریدریش ایبرت بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده، ترڅو د افغانستان د ګاونډیو لپاره، د پالیسیو د تعدیل، او د اروپایي بهرنیو پالیسي جوړوونکو ترمنځ یوې هر اړخیزې اړتیا لپاره ورته سناریوګانې تدوین او تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ دغه لنډیز، د دغه لړۍ یوه برخه ده، چې د انډریو واټکینز و ډاکټر تیمور شاران له خوا لیکل شوی، ترڅو د پالیسۍ د موجودو ابزارو، ستراتیژیکي ګټې او د افغانستان په دننه او بهر د اصلي شریکانو د ننګنو په تړاو، د امریکا د وتلو او د افغانستان د سولې خبرو پایلې، تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ نوملړ، په لاندې ادرس کې ترلاسه کولی شي: https:// afghanistan.fes.de/publications

۲ قندیل صدیق، د افغانستان په تړاو د پاکستان راتلونکی سیاست: ستراتیژیک عمق ته کتنه، توندلارې خوځښتونه او د هند او امریکا ونډه (کوپنهاګ: د ډنمارک د نړیوالو څېړنو انسټیټوت، اګست ۲۰۱۱).

۳ دا د ۱۸۹۳ز. کال د تړون په پایله کې ، افغان لوري د پام وړ خاوره، لکه د نن ورځې د خیبر پښتونخوا او بلوچستان ایالتونه پاکستان ته وسپارله.

په داسې حال کې، چې افغان لوري له خپلو سيالو پاکستاني ملکي (ناپوځي) چارواکو څخه د دوستي پيغامونه ترلاسه کوي، خو د کابل چارواکي په خصوصي توګه څرګندوي، چې لا هم ليرې ده، چې داسې يو څه په عمل کې پلي او د پاکستان د امنيتي سازمانونو ونډه پکې نه وي. اسلام اباد په خصوصي توګه له کابل او د افغانستان له نورو داخلي لوبغاړو سره اړيکې لري او دغه څه يې د خپل ۱۹۹۰ ز. کال له تېروتنو څخه زده کړي او په جدي توګه په خپل لويديځ ګاونډ کې د يو باثباته ګاونډي غوښتونکی دی، ترڅو له بې ثباتيو او د هغه له پايلو څخه لکه دغه هېواد ته د کډوالو د پراخ بهير ماتېدلو څخه مخنيوی وکړي. د اسلام اباد پاليسي جوړوونکي، څرګندوي چې د لاندينيو بنسټيزو موضوعاتو په تړاو، په اسلام اباد کې يو نوی درک شتون لري:

- داسې ښکاري، چې پاکستاني چارواکي له خپلې مخکنۍ ستراتيژۍ څخه، چې په افغانستان کې له پښتون قوم څخه د ملاتړ پر بنسټ و، له نورو ناپښتانه قومونو لکه تاجکو، هزارو او په شمال او مرکزي سيمو کې ازبکو سره د اړيکو د جوړولو له لارې، ليرې کېږي. له پاکستان څخه د ملي مصالحې عالي شورا رييس ډاکټر عبدالله عبدالله او د ولسي جرګې د رييس ميررحمن رحماني وروستی ليدنې، د دغې نوې ستراتيژۍ يوه برخه ده. افغان ناپښتانو سياستوالو هم هڅه کړې، ترڅو په نارسمي توګه له اسلام اباد سره اړيکې ټينګې کړي او له دغه هېواد سره د اقتصادي او سوداګريزو همکاريو د پراختيا په تړاو خبرې وکړي.
- په اسلام اباد کې پاليسي جوړونکي، د دې پرځای چې افغانستان د يوې حايلې سيمې او د ستراتيژيک عمق سرچينه وګڼي، چې يوازې د يو امنيتي سياست له لارې ترلاسه کېدای شي، د افغانستان ظرفيت د سيمه ييز ادغام او اتصال او اقتصادي همکاريو د يو قطب په توګه جوتوي. په همدې توګه، د دغه هېواد چارواکو، همدارنګه څرګنده کړې، چې دوی په دې لټه کې دي، ترڅو د افغانستان مسله له هند څخه جلا او په ځانګړې توګه، د کشمير له اختلافي مسلې جلا وګڼي، چې په پراخه کچه د افغانانو له هرکلي سره مخ شوی دی.
- د زياترو شنونکو په باور، د افغانستان او پاکستان د اړيکو پراختيا، د جيوپولټيکي ډيناميک او سولې بهير ورهاخوا، تر ډېره بريده په نورو موضوعاتو لکه د سرحدونو مديريت، د تعرفو منطقي کول، د آزاد ترانزيټ هوکړه ليک او افغان کډوالو بېرته ستنېدو پورې تړلي دي.
- .

## په افغانستان کې احتمالي سناريوګانې: د پاکستان ليدلوري

اسلام اباد په ځانګړې توګه له افغانستانه د متحده ايالاتو د ناڅاپي وتلو په اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړي او په دې برخه کې د ډاکټر نجيب الله دولت د ۱۹۹۲ کال وروسته دوره يادوي، چې پاکستان ادعا کوي، زيات مسووليت او بار يې پر غاړه واخيست. چارواکو، همدا راز څرګنده کړې، چې اسلام اباد همدارنګه له افغانستان څخه د متحده ايالاتو مسوولانه وتلو ته ترجيح ورکوي، هغه دريځ، چې کابل او د سيمې او اروپايي ټولنې زياترو هېوادونو سره ګډ نظر لري. لکه څرنګه چې د ناټو په وروستی ناسته کې هم له افغانستان څخه د ځواکونو پر جوړښتيز او شرايطو پر بنسټ برابر شاتګ ټينګار وشو.

د هغو درېو سناريوګانو له جملې څخه چې په پراخه کچه د بحث وړ دی، پاکستاني پاليسي جوړوونکي لومړيو دوو انتخابونو ترلاسه کېدو ته خوشبين دی:

- **د يو نړيوال باثبات او مشروع دولت ټينګښت:** دغه سناريو، په خپله فعلي بڼه کې د افغان دولت د ابقا او پاتې کېدو لامل ګرځي، چې طالبان هم د واک وېش په بهير کې پکې شامل دی. په همدې حال، په اسلام اباد کې پاليسي جوړوونکي، په ځانګړې توګه جنرالانو اشاره کړې، چې ښايي له اوسني دولت سره به کارونه کوي او په ټوليزه توګه دې لومړيتوب ورکوي، چې په کابل کې نوی دولت له هند سره نژدې اړيکې ونه لري[۴]. کابل، دغه څرګندونې د دې لامل بولي، چې د افغانستان په تړاو د پاکستان سياست تغيير نه دی کړی.
- **يو باثباته دولت خو د طالبانو تر واک لاندې:** په دغه سناريو کې، د کابل اوسنی دولت له منځه ځي او د بشرحقونو او په اساسي قانون کې موجودو اصولو ته په کمې پاملرنې سره به طالبان واک په خپل لاس کې اخلي. په دغه سناريو کې پاکستان کولی شي، په کابل کې تر خپلې حمايې لاندې يو دولت د رامنځته کېدو لپاره، شرايطو څخه په ګټه اخيستنې سره، د طالبانو له مشرتابه سره، چې ښايي يو شمېر سيمه ييزو او ولايتي واک کړيو په ځانګړې له شمال او مرکزي سيمو څخه شامل وي، کار وکړي.
- **د کورنۍ جګړې سناريو:** دغه سناريو، د پاکستان او نورو سيمه ييزو لوبغاړو لپاره ډېره کمه مطلوبه پايله لرلې شي. که د سولې هوکړه ليک له ماتې سره مخ شي او نړيوال ځواکونه له افغانستان څخه خپلو وتلو ته دوام ورکړي، نو جګړه ښايي دوام پيدا کړي او لا شديده شي؛ په داسې حال کې، سيمه ييز لوبغاړي له دې جملې څخه پاکستان د خپلو امنيتي ګټو د خونديتوب په موخه به له سيالو کورنيو ځواکونو څخه ملاتړ وکړي. ښايي نور هېوادونه لکه ايران، هند او روسيه هم دغه لوبې ته وردننه شي او هېواد د يوې بلې خونړۍ دورې خواته حرکت وکړي. دغه سناريو کولی شي، له فاجعو ډکې بشري پايلې له ځانه سره ولري؛ پاکستان او ايران اړ دي، د دغه ناورين ډېره کچه په ځانګړې توګه د کډوالو ناورين، لکه د ۱۹۹۰ لسيزې په شان، متحمل شي. د دغې سناريو له دغو منفي اغېزو سره سره، پاکستان ښايي د جمع صفر ستراتيژيک ليدلوري سره سم، چې د هند د نفوذ انکار ته تر بل هر څه لومړيتوب په پام کې نيسي، په دغه سناريو کې ښکيل شي.

۴ "د پاکستان د بهرنيو چارو وزير، د بنديانو د خلاصون په اړه څرګندونې وکړې او يو پاکستان متقاعد جنرال، په کابل کې د رژيم د بدلېدو غوښتونکی شو، طلوع نيوز، سپتمبر ۲۰۲۰.

## سیمه‌ییز ګډ لرلید؟ د سیمه‌ییزو ستونزو مالکیت

د ننګونو څوارخیزو او پیچلي ماهیت ته په پام سره، دواړه هېوادونه یعنې پاکستان او افغانستان باید د خپلمنځي اړیکو ښه کولو پر لوري ګام واخلي، او د سولې له داسې پروسې څخه ملاتړ وکړي چې د لنډمهالې سولې تر ټینګښت لوړې پایلې له ځانه سره ولري. دواړه هېوادونه باید په ګډه توګه د همکاریو بالقوه برخو کې په لنډمهاله او منځمهاله توګه سره کار وکړي. دغه برخې، د سرحدونو مدیریت، کډوالو، سوداګرۍ، اقتصادي اړیکو او تروریزم په برخو کې ګډ کار رانغاړي.

- **سیمه ییز امنیت:** د متحده ایالاتو وتل، د افغانستان سیمه ییز امنیت تحرک لپاره فرصت چمتو کوي؛ ځکه ایران، پاکستان، چین، روسیه او نور سیمه ییز هېوادونه به نور په سیمه کې د امریکا د اوږدمهال شتون په تړاو اندېښنې ونه لري؛ دغه چاره، ښایي له امنیت څخه اقتصادي ادغام ته، د تمرکز د بدلون لامل شي. د تعقیب په صورت کې، د پاکستان له لوري، د هند له مسلې څخه د افغانستان د مسلې بېلول، هیله بښونکې چاره ده. له ۲۰۱۳ ز. کال راهیسې د پاکستان په تړاو د روسیې کړنلاره – البته د دوام په صورت کې – ښایي له سیمې څخه د ناټو تر وتلو وروسته، د سیمه ییزې شخړې او لانجې د ګواښ کچه په بې سارې توګه راټیټه کړي[5].

- **د افغان کډوالو بېرته ستنول:** اوسمهال، پاکستان په خپله خاوره د نږدې درېیو میلیونو افغان کډوالو کوربه دی، چې پکې ثبت شوي او ناثبت شوي کډوال دواړه شامل دي، دغه چاره د دواړو هېوادونو د راتلونکو اړیکو په برخه کې یو مهم عامل دی[6]. دواړه هېوادونه په دې برخه کې د اروپایي ټولنې او ملګرو ملتونو سازمانونو تخصصي مرستو ته اړتیا لري، ترڅو له یو بل سره په همکارۍ سره، د افغان کډوالو د بېرته ستنولو په موخه د پالیسیو یوه منسجمه او عملي ټولګه او اغېزناکې حل لارې تدوین کړي.

- **اقتصادي ادغام او سوداګري:** پاکستان، د خپلې کورنۍ ستونزې د هوارۍ لپاره په ځانګړې توګه د اقتصادي سپما، د انرژۍ د کمښت، اقلیمي بدلون او د زېربناوو پرمختیا په برخو کې، په افغانستان کې ثبات ته اړتیا لري. دغه چاره، د اقتصادي اتصال امکانات لکه د ترکمنستان – افغانستان – پاکستان او هند د ګازو نللیکې (TAPI)، د مرکزي اسیا – سویلي اسیا د برېښنا د لېږد پروژې (CASA-1000) او د وسپنې پټلې د لارو جوړولو لپاره لارې چارې چمتو کوي. لکه څرنګه اروپایي ټولنې او امریکا په ښکاره څرګنده کړې، په پاکستان کې د هغوی راتلونکې پانګونې به تر ډېره، د افغانستان او پاکستان ترمنځ په ښو اړیکو او په سیمه کې ثبات پورې تړاو ولري.

- **له تروریزم سره مبارزه:** پاکستان تر نړیوالو او کورنیو تر فشارونو لاندې دي، په ځانګړې توګه د مالي اقدام کاري ډلې، ترڅو هغو تروریستي او توندلارو ډلو ته رسېدنه وکړي، چې د دغه هېواد له خاورې څخه فعالیت کوي. له طالبانو سره د متحده ایالاتو د هوکړه لیک لومړۍ شرط دا دی، چې له تروریزم سره مبارزه وکړي. له عملي پلوه، هم افغان دولت او هم طالبان کلونه د خراسان له اسلامي دولت (ISKP) سره جنګیدلي دي. له ISKP سره مبارزه، د پاکستان او نورو نړیوالو لوبغاړو ترڅنګ، کولی شي د جګړې د دواړو لورو ترمنځ د همغږۍ یو ټکی وي.

- **د پانګونې او روغتیایي سیاحت ویزې:** افغانانو، د پاکستان د ویزې له وروستۍ پالیسۍ څخه په ځانګړې توګه د روغتیایي او سوداګریزو موخو لپاره هرکلی کړی دی. پاکستان همدارنګه د درملنې په موخه د زیاترو افغانانو لپاره یو اصلي مقصد دی. د ټولو افغانانو لپاره د ویزې په شرایطو کې زیاته آسانتیا، په ځانګړې توګه اوږدمهالو او څو ځلي ویزو په برخو کې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د ښه کېدو په برخه کې مرسته کوي.




په پاکستان کې افغان کډوال او پناه غوښتونکي (۲۰۰۰-۲۰۱۹)

سرچینه: UNHCR

۵ د " روسیې، افغانستان او اروپا پالیسۍ ته" مراجعه وکړي، تیمور شاران، انډریو واټکېنز، FES ، دسمبر ۲۰۲۰ ز.کال.

٦ "په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت"، د اروپایي پناه غوښتونکو د ملاتړ دفتر، می ۲۰۲۰ ز. کال.

## د اروپايي ټولنې لپاره وړانديزونه

اروپايي ټولنه په نورو لړزاندو شرايطو کې له خپلو تجربو څخه په ګټه اخيستنې سره، کولی شي، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړيکو پياوړتيا او رغېدا برخه کې مرسته وکړي، چې دغه چاره د سيمې او تر هغه هاخوا د سولې او ثبات لامل ګرځي.

- اروپايي ټولنه کولی شي له پاکستان سره د خپلو اړيکو او له خپل واک څخه په ګټه اخيستو سره، د دواړو هېوادونو ترمنځ د خبرو اترو له لارې په ځانګړې توګه، د سولې روانو خبرو ها خوا موضوعاتو په تړاو لکه د کډوالو بېرته ستنېدل، د سرحدي لانجې حل، د اقتصادي همکارۍ او سوداګريز ادغام سره مرسته وکړي. له افغانستانه د ناټو د پوځيانو تر وتلو وروسته، بايد د دواړو هېوادونو لپاره لابيګری وشي، ترڅو له دغه فرصت څخه، د خپلو اړيکو د بيا تعريف لپاره ګټه واخلي.
- اروپايي ټولنه بايد پر پاکستان زيات فشار وارد کړي، ترڅو دغه هېواد طالبان دې ته اړ کړي، چې د سولې روانې خبرې جدي ونيسي او د تاوتريخوالي کچې راټيټېدو ته ژمن شي؛ لکه څرنګه چې د ۲۰۲۰ ز. کال په ژنيو کنفرانس دې ورته شی تر سترګو شو. له دې پرته طالبان د سولې په خبرو کې، د خپل حداکثر پالنې کړنلارې له لارې ښايي خپل لاس تر حد زيات خلاص کړي او دغه پروسه به لا کمزورې کړي. په خبرو کې ځند، کېدای شی د طالبانو – امريکا ترمنځ هوکړه ليک نورې مادي لکه د ملګرو ملتونو د تحريمونو لغو کېدل او د بنديانو خوشي کېدل، تر خپلې اغېزې لاندې راولي او دغه لړۍ لا پسې پېچلې کړي.
- اروپايي ټولنه، له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه چين او ايران سره د خپلو اړيکو او واک څخه د سيمه ييزو همکاريو او اقتصادي متقابلی تړلتيا په موخه کار واخلي.
- اروپايي ټولنه او امريکا بايد پاکستان تر خپلو فشارونو لاندی ونيسی، ترڅو په خپله خاوره کې د طالبانو پناه ځايونه وتړي. کابل تل دا اندېښنې مطرح کوي، چې د پاکستان د سياست له تغيير پرته، طالبان به تل د دې جوګه وي، چې د دغې ډلې د غوځې ماتې په موخه د افغان دولت هڅې بې پايلې کړي. د نورو هېوادونو تجربو ښودلې، چې د امنو او خوندي پناه ځايونو شتون، د وسله والو نښتو عمر اوږدوي او د دې ترڅنګ د بين الدولي جګړې ګواښ زياتوي[7].
- له موجودو ميکانيزمونو لکه د سولې او پيوستون لپاره د افغانستان او پاکستان کاري (APAPPS) پلان څخه په ګټه اخيستنې سره، چې پر ۲۰۱۳ز. کال د بريتانيا په منځګړيتوب سره تدوين شو، اروپايي ټولنه د نورو اختلافونو د هوارۍ لپاره په ځانګړې توګه د ډيورند کرښې په تړاو اوږدمهال اختلاف او لانجې په برخه کې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د خبرو او بحث منځګړيتوب وکړي. دغه چاره کولی شي، د سوويلي او مرکزي اسيا ترمنځ بين المنطقه يي اړيکې د افغانستان له لارې پياوړې او پراخې کړي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د منطقي تعرفي او آزاد ترانزيټ په برخه کې مرسته وکړي.

---

۷ "له هېواده بهر تروريستي ډلو څخه د ملاتړ لړۍ"، دانيال بايمن RAND Corporation 2021، et al، ۸۴ مخ.

**د ليکوالانو په اړه**

داکټر تېمور شاران د افغانستان په امريکايي پوهنتون کې د عامه پاليسۍ مرستيال پروفيسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړيوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډريو واټکېنز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هيله منديۍ څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنيوي کې ژوره ښکېلتيا لري. تر دې پخوا يې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امريکا متحدو ايالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

**د پښتی د انځورونو په اړه:**

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني (ښی) د پاکستان له لومړي وزير عمران خان سره په ۱۹ نومبر ۲۰۲۰ په ارګ کې سره وکتل.

انځور: رويټرز / محمد اسماعيل /

چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فريدريش ايبرت بنسټ

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

د فريدريش ايبرت بنسټ له ليکلې مخکينۍ اجازې پرته، د فريدريش ايبرت بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګريزه ګټه اخيستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظريې، د فريدريش ايبرت بنسټ د ليدلورو منعکسوونکي نه دي.